Social Sceince
AcademicJournal
لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# د قاموس لیکنې علمي روشونه

**پوهاند عبدالقدیر خموش[۱*]، پوهندوی دوکتور احمدجاوید صدیقي[۲]**
[۱]پښتو څانګه ، ادبیاتو پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان
[۲]پښتو څانګه ، ادبیاتو پوهنځی، بلخ پوهنتون، بلخ، افغانستان
ایمیل: jawid.sediqi1988@gmail.com

ترلاسه سوي: ۱۴۰۴/۱۰/۲۶ ، منل سوي:۱۴۰۴/۱۲/۱۹، خپره سوي: ۱۴۰۴/۱۲/۲۹، مخونه:۳۸-۵۴

**لنډیز**

قاموس‌لیکنه د ژبپوهنې یوه خپلواکه او بین‌الرشتوي څانګه ده چې له لغت‌پوهنې، کمپیوټري ژبپوهنې او منابع‌پېژندنې سره نږدې اړیکه لري. دغه څېړنه د قاموس‌لیکنې علمي بنسټونه، تیوریکي لیدلوري او عملي اصول تحلیلوي. پکې د قاموس‌لیکنې اساسي مفاهیم، ډولونه، ریښه پېژندنه او جوړښت بیان شوي او د ژبو له مخې د قاموسونو درې اساسي ډولونه یوژبیز، دوه‌ژبیز او څوژبیز معرفي شوي دي. څېړنه په تشریحي او توصیفي میتود او کتابتوني بڼه ترسره شوې ده. د هارتمن له نظره د قاموس‌لیکنې اووه اساسي اصول لکه د موخې او کاروونکي اصل، ټاکنه، تشریح، ترتیب او سرچینې څېړل شوي دي. پایله ښیي چې قاموس‌لیکنه یو علمي او معیاري بهیر دی چې د لغوي واحدونو د ټاکلو، تشریح او منظم وړاندې کولو لپاره ژبپوهنیز، ارواپوهنیز او تخنیکي بنسټونه غواړي.

**کلیدي کلمې:** قاموس‌لیکنه، علمي روشونه ، لهجوي قاموس، ریښه پېژندنه

# Scientific Methods of Lexicography

**Professor Abduqadir Khamosh[1*], Associate Professor Dr. Ahmad Javeed Sadiqi[2]**
[1]Pashto Department, Faculty of Litrture, Kabul Uiversity, Kabul/ Afghanistan
[2]Pashto Department, Faculty of Litrture, Balkh Uiversity, Balkh/ Afghanistan
**Email:** jawid.sediqi1988@gmail.com

## Abstract

Lexicography is recognized as an independent and interdisciplinary branch of linguistics, closely related to lexicology, computational linguistics, and source studies. This study analyzes the scientific foundations, theoretical perspectives, and practical principles of lexicography. It explains the basic concepts, types, etymology, and structure of dictionaries and introduces three main types based on language: monolingual, bilingual, and multilingual dictionaries. The research is conducted using descriptive and explanatory methods in a library-based format. According to Hartmann, seven fundamental principles of lexicography, including purpose and user principle, selection, definition, arrangement, and sources, are examined. The findings show that lexicography is not merely a technical process but a scientific and standardized procedure requiring linguistic, psychological, and technical foundations for selecting, defining, and systematically presenting lexical units.

**Keywords:** Lexicography, Scientific Methods, Dialectal Dictionary, Etymology

## سریزه

د قاموس لیکنه په برخه کې یوه پوښتنه ممکن دا وي چې قاموسونه موږ ته څه په درد خوري؟ قاموس د ژبې د لغتونو او اصطلاحاتو ټولګه ده چې د دغو لغتونو او اصطلاحاتو په اړه موږ ته مالومات راکوي. قاموس موږ ته وایي چې د یو لغت املا څه ده؟، تلفظ یې څه ډول دی؟، ګرامري هویت یې څه دی؟، د بېلګې په ډول یوه کلمه نوم دی، مصدر دی، قید دی او که کوم بل ډول ګرامري ځانګړنې لري. قاموس د لغت مانا موږ ته راکوي او وایي چې د یوه لغت کارونه څه ده او څه ډول کارول کېږي. قاموس موږ ته وایي چې یوه کلمه له اخلاقي پلوه څه ډول ده، د بېلګې په ډول یوه کلمه، رسمي ده، ادبي ده، محترمانه ده، عامیانه ده او که داسې نورې ځانګړنې لري. یو ښه قاموس ټولې دغه پوښتنې چې لوستونکو ته پیدا کېږي په سمه توګه ځوابوي.[1]

قاموس لیکنه[2] د قاموس د لیکنې بهیر، هنر، پوهه او فن دی. د دغه فن او هنر پایله د قاموس تر عنوان لاندې د لغتونو یو مرجع کتاب دی. ځینې افراد له قاموس لیکنې سره لېوالتیا لري او ځینې نور یې په ژبه کې د شته تشو د له منځه وړلو  په موخه د قاموس لیکنې په برخه کې فعالیت کوي. سره له دې چې په افغانستان کې قاموس لیکنه له ډېر پخوا دود ده، لیکل شوي قاموسونه تر ډېره د اوسنیو ژبپوهنیزو اصول له مخې نه دي ترتیب او لیکل شوي. اوس‌مهال قاموس لیکنه د نړۍ په معتبرو پوهنتونو کې د یوه درسي مضمون په توګه تدریسېږي.

زما د مطالعې له مخې تراوسه په پښتو ژبه کې د فرهنګ لیکنې د اصولو او ترتیبولو مناسب درسي کتاب نشته، اړتیا ده چې په دې برخه کې مناسب او د اوسنیو علمي روښونو له مخې درسي کتاب چمتو شي. د دې مقالې یوه موخه دا ده چې پښتانه لیکوالان دې ته وهڅوي چې په دې برخه کې څېړنه وکړي او داسې منابع رامنځته کړي چې د افغانستان د پوهنتونو په پښتو څانګو کې تدریس شي. قاموسونه، هغه وسیلې دي چې له انسان سره د بېلابېلو ناپېژندل شویو ژبنیو توکو په پېژندنه کې مرسته کوي، قاموس‌لیکنه له یوې خوا د ژبپوهنې د یوې نوې څانګې په توګه فعالیت کوي، له بلې خوا د مهمو ژبنیو اثارو په ډله کې راځي چې ډېرې ژبنۍ زېرمې په کې خوندي وي.

[1] دغه متن د قاموس لیکنې په اړه د فارسي ژبې له یوه انلاین درس څخه اخیستل شوی دی.

2 lexicography

## د څېړنې پوښتنې

- ✓ د قاموس‌لیکونې علمي اوسني بنسټیز اصول کوم دي او دا اصول څنګه د قاموس د علمي اعتبار او کارېدنې پر کچه اغېز کوي؟
- ✓ غیرترکیبي قاموسي واحدونه د معنایي تشریح، صرفي بنسټ او کارېدنې له پلوه څنګه تنظیمېږي او د دې تنظیم علمي میتودونه کوم دي؟

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې د قاموس‌لیکونې بنسټیز علمي روشونه په نظري او تطبیقي چوکاټ کې وڅېړل شي او روښانه کړي چې څنګه منظم میتودونه د یو معیاري، دقیق او ګټور قاموس د ترتیب لامل کېږ، په دې څېړنه کې د سرویي د ټاکنې، د غیرترکیبي قاموسي واحدونو د تنظیم، د معنایي تشریح، صرفي بنسټ او د کارېدنې د ثبت علمي اصول تر بحث لاندې نیول کېږي، څو د قاموس‌لیکنې د معاصر معیارونو روښانه انځور وړاندې شي. سربېره پر دې، څېړنه د پښتو ژبې په علمي او فرهنګي وده کې د قاموس‌لیکنې پر اهمیت ټینګار کوي، ځکه معیاري قاموسونه نه یوازې د ژبني پوهاوي، ښوونې او څېړنې بنسټ برابروي، بلکې د پښتو د لغوي شتمنۍ د ساتنې، معیاري کېدو او علمي تولید د پیاوړتیا لپاره هم اساسي رول لري.

## د څېړنې ستونزه

د دې څېړنې اصلي مساله یا ستونزه  دا ده چې په پښتو ژبه کې د قاموس‌لیکونې ډېری موجود اثار د یو منسجم او معیاري علمي مېتود له نشتوالي سره مخ دي، چې په پایله کې د سروېید ټاکنې، د غیرترکیبي قاموسي واحدونو د تفکیک، د معنایي تشریح د دقیقوالي او د کارېدنې د ثبت په برخه کې نابرابري او ناهمغږي رامنځته شوې ده. دغه میتودولوژیک کمزوري نه یوازې د قاموسونو علمي اعتبار او عملي ګټې راکموي، بلکې د پښتو ژبې د لغوي شتمنۍ د منظم ثبت، معیاري کېدو او د علمي څېړنو د اړتیاوو پوره کولو پر وړاندې هم جدي خنډ ګرځي.

## د څېړنې میتود

د دې څېړنې لپاره تشریحي ـ تحلیلي مېتود کارول کېږي. په دې مېتود کې لومړی د قاموس‌لیکونې د معاصرو علمي نظریاتو او معیاري سرچینو مطالعه کېږي او ورپسې د پښتو ژبې د ټاکل شوو قاموسونو په اړه بحث کېږي، معنایي تشریحات او تنظیمي اصول په تحلیلي ډول ارزول کېږي، څو د موجودو ستونزو او اغېزمنو علمي روشونو ترمنځ روښانه پرتله وشي.

## د څېړنې مخینه

په پښتو ژبه کې د قاموس‌لیکونې مخینه تر ډېره له عملي اړتیاوو سره تړلې ده او د دې بهیر لومړنې هڅې تر ډېره د لغتونو د راټولولو، ژباړې او تشریح پر بنسټ ولاړې وې، نه د منسجمو علمي مېتودونو پر اساس. د شلمې پېړۍ له لومړیو راهیسې د پښتو ځینو مخکښو عالمانو او لیکوالو د لغوي کارونو له لارې د پښتو د لغوي شتمنۍ د ثبت او خوندي کولو لپاره مهم ګامونه واخیستل. د دوی قاموسونه او لغت‌نامې که څه هم له علمي میتودولوژۍ سره بشپړ سمون نه لري، خو د پښتو قاموس‌لیکونې د بنسټ اېښودنې په برخه کې ارزښتناک تاریخي او علمي اهمیت لري.

وروسته په معاصره دوره کې، د پښتو ژبپوهنې د پرمختګ سره یو ځای، د قاموس‌لیکونې پر علمي اړخونو هم پام زیات شو. څېړونکو د لغوي معیاري کېدو، سرویي ټاکنې، اصطلاح‌جوړونې او د معنایي دقیقوالي پر اړتیاوو ټینګار وکړ او د خپلو لیکنو او قاموسونو له لارې یې د قاموس‌لیکنې نظري بنسټونه تر یوه بریده روښانه کړل. سره له دې پرمختګونو، لا هم په پښتو کې د قاموس‌لیکنې یو بشپړ منظم، میتودولوژیک او د نړیوالو علمي معیارونو پر بنسټ ولاړ چوکاټ ندی رامنځته شوی؛ خو له نېکمرغه په دې برخه کې هڅې رواني او دغه ستونزه حل کیدونکې ده.

## قاموس‌لیکنه څه ده؟

قاموس‌لیکنه د ژبپوهنې هغه مهمه څانګه ده چې ځانګړي اصول لري. د ژبپوهنې دغه برخه هم تیوریکي اړخ لري او هم عملي اړخ. قاموسونه نه یوازې په ژبو کې لغوي زېرمې ساتي، بلکې د ژبې د تدریس، څېړنو او ژبې د زده‌کړې په برخه کې هم مهم رول لري. قاموس لیکنه له کارپوس او کمپیوټري ژبپوهنو سره نږدې اړیکي لري او پرمختګ یې له دغو څانګو سره تړلی دی.

قاموس‌لیکنه د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې په هغه کې د لغتونو د راټولولو، تعریفولو، تشریح کولو، ترتیب او په قاموس کې د ځای پر ځای کولو علمي او عملي چارې سمبالوي. په ساده ډول ویلی شو چې قاموس لیکنه د لغوي زیرمو د انتخاب، تدوین، سمبالتیا او وړاندې کولو علم دی ( جیمز او هارټمن، ۲۰۰۲). د قاموس یو ډېر ساده تعریف داسې کېدی شي چې قاموس هغه کتاب دې چې په یوه ژبه کې لغتونه د الفبې په ډول په کې ترتیب شوې وي.

اوسني قاموسونه تر ډېره د لغتونو د املا[3]، تلفظ[4]، څپیزه ډلبندي[5]، ریښه‌پېژندنې[6]، کارونې، مترادف[7]، متضاد[8] او ګرامري اطلاعات[9] په پام کې نیسي.

د لغتونو ترڅنګ ممکنه ده چې ځینې وییزواحدونه[10] هم په قاموسونو کې راغلي وي. په دې توګه که چېرې د قاموس دقیق تعریف وکړو، ویلی شو چې قاموس هغه منبع کتاب دی چې له وییزو واحدونو جوړ ، د الفبې له مخې ترتیب او په هغه کې د لغتونو په اړه اطلاعات موجود وي (شریفي او قطره، ۱۳۹۸).

قاموس لیکنه د علمي او ځانګړو موخو لپاره کېږي. قاموس لیکنه د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د قاموس لیکنې له اصولو او ترتیب سره سروکار لري (بهمني او رشیدي، ۱۳۹۷).

قاموس لیکنه د قاموس د تألیف او تدوین بهیر دی. قاموس لیکنه هغه علمي او تخصصي فعالیت او بهیر دی چې له مخې د قاموس مرجع کتاب ترتیب او رامنځته کېږي. قاموس لیکنه بین‌الرشتوي حوزه ده چې له ژبپوهنې، لکسیکولوژي[11] ، کمپیوټر او ټکنالوژي او منابع‌پېژندنې[12] سره اړیکې لري. ځینې ژبپوهان قاموس لیکنه د عملي ژبپوهنې او ځینې نور یې بیا د نظري ژبپوهنې څانګه بولي. یو شمېر نور بیا قاموس لیکنه خپلواکه څانګه بولي(شریفي او قطره، ۱۳۹۸).

## د قاموس لیکنې اصول

په عموم کې قاموس‌لیکنه په دوو برخو وېشل کېږي، عملي قاموس‌لیکنه[13]کې لومړی برخه ده چې په هغې کې د ډېټا ثبتول، را ټولول، د راټولو شویو توکو توصیف، لیکل او اېډیټ په کې شامل دي. دویمه برخه یې نظري قاموس‌لیکنه[14]ده چې په هغې کې د قاموس‌لیکنې په اړه د نظریو ټولګې شاملې دي او د قاموس‌لیکنې په اړه څېړنې کوي.همدا راز کولی شو قاموس‌لیکنه په عمومي[15] او تخصصي

3 spelling
4 pronunciation
5 syllabification
6 etymology
7 synonym
8 antonym
9 Grammatical information
10 Lexical unit
11 lexicology
12 Reference science
13 Practical lexicography
14 Theoretical lexicography
15 General lexicography

قاموس‌لیکنې[16] باندې هم وویشو، لومړی ډول یې د ژبې عمومي قاموسونه دي او په دویم ډول کې یې د یوې ځانګړې برخې او علم تخصصي او مسلکي قاموسونه شامل دي. (شریفي او قطره، ۱۳۹۸).

قاموس‌لیکنه دقیق، له زحمت ډک، پېچلی او د ډېرې حوصلې غوښتونکی کار دی چې لیکل یې اصول او قواعد لري. د قاموس‌لیکنې اصول د ژبنیو قواعدو په څېر نه دي، بلکې دغه اصول د نقش او مانا ترمنځ د اړیکې د بیان لپاره یو چوکاټ ټاکي. په بله وینا قاموس‌لیکنه د طبیعي پدیدو د فزیکي اصولو تابع نده، قاموس‌لیکنه د انساني شعور، درک او فکري فعالیتونو له اصولو سره تړاو لري. وړاندې د قاموس‌لیکنې ۷ اصله تشریح کېږي چې په دوو برخو وېشل کېږي. لومړی برخه یې د قاموسونو ډلبندۍ پورې تړاو لري او دویمه برخه یې توضیحي دي. لومړي برخه هغه څه تشریح کوي چې قاموس‌لیکونکي یې ترسره کوي او دویمه برخه یې د هغه څرنګوالی (خرارتس، ۱۹۸۹، ۱).

هارتمن د قاموس‌لیکنې په برخه کې مهم کتاب لیکلی دی او له دې اثر څخه په سلګونو نورو اثارو او مقالو کې یادونه شوې چې د قاموس‌لیکنې په برخه کې د مهمو اثارو په ډله کې راځي. د دې اثر یوه موخه دا ده چې د قاموس‌لیکنې د عملي او نظري مفاهمو ترمنځ توازن رامنځته کړي چې هم قاموس‌لیکونکي، هم ژبپوهان او هم د ژبې ښوونکي ترې استفاده وکړي. هارتمن خپل دغه اثر په څلور برخو کې ترتیب کړی چې لومړی برخه کې د قاموس‌لیکنې نظري بنسټونه[17]، دویمه برخه یې د قاموس‌لیکنې عملي برخه[18]، دریمه برخه یې د قاموس‌لیکنې زده‌کړه او تدریس[19] او څلورمه برخه کې د قاموس‌لیکنې په اړه څېړنو[20] ته ځانګړې شوې ده. هارتمن (۲۰۰۱) په خپل اثر[21] کې د قاموس لیکنې په اړه د خرارتس هغه اووه اصول راوړي، کوم چې د قاموس‌لیکنې لپاره اړین دي. دغه اصول د دې اثر په (۳۱-۳۳) مخونو کې په لاندې ډول راغلي دي:

۱- د موخې او کاروونکي اصل: قاموس چې په هر ډول او هره محتوا لیکل کېږي باید ځانګړو موخو او له وړاندې ټاکل شوي کاروونکو ته پام وکړي، قاموس‌لیکونکي باید متوجه وي چې د چا لپاره یې لیکي او څه ډول اړتیاوې باید پوره کړي ( هارتمن، ۲۰۰۱: ۳۱).

16Specialized lexicography

17 Theoretical Foundations of Lexicography

18 Practical Aspects of Lexicography

19 Teaching Lexicography

20 Research in Lexicography

21 Teaching and Researching Lexicography

۲- د ټاکلو اصول: په دې اصل لغات او اصطلاحات په پام کې نیول کېږي، په دې مانا چې د دغه اصل له مخې لغتونه او اصطلاحات انتخابېږي بیا په قاموس کې ځای ورکول کېږي. د لغتونو ټاکل باید د ژبې د کارونې، فرهنګي ارزښتونو او د کاروونکو د اړتیاوو له مخې وشي، نه په تصادفي ډول( هارتمن، ۲۰۰۱: ۳۱).

۳- د تشریح اصل: په قاموس د هر لغت تعریف او تشریح باید روښانه، منطقي او په پوره ډول د پوهېدو وړ وي. د دې ترڅنګ په تشریح او وضاحت کې باید علمي دقت هم په پام کې ونیول شي. د وییونو تشریح او وضاحت باید له توصیفي، منطقي او ډلبندۍ له مخې مناسب وي چې درک یې د کاروونکو لپاره اسانه شي ( هارتمن، ۲۰۰۱: ۳۱).

۴- د بڼې او ترتیب اصل: د قاموسونو داخلي جوړښت او د وییونو ترتیب باید ډېر منظم وي، دا اصل د الفبایي ترتیب، سروییونو د سلسلې او معنوي اړیکو په پام کې نیولو سره ترسره کېږي ( هارتمن، ۲۰۰۱: ۳۱).

۵- د باور او سرچینو اصل: د وییونو سرچینې باید مستندې وي، قاموس‌لیکونکی باید له معتبرو متونو، ژبنیو منابعو او نورو قاموسونو څخه استفاده وکړي، څو د قاموس علمي اعتبار وساتل شي( هارتمن، ۲۰۰۱: ۳۱).

٦- د بڼې د ښکلا اصل: د قاموس بڼه باید د لوستونکي لپاره روښانه، منظمه او د لوستو وړ وي. ټایپوګرافیک ترتیب، فونټ، نښې او د معلوماتو د دید تنظیم باید د پوهېدو او درک پروسه کړي( هارتمن، ۲۰۰۱: ۳۳).

۷- د بیا کتنې او سمون اصل: هر قاموس باید د دوامدارې سمون او ارزونې وړ وي. د کاروونکو نظریات، ژبني بدلونونه او ټکنالوژیکي پرمختګونه باید په راتلونکو بڼو کې شامل شي چې په دې سره به قاموس د وخت له غوښتنو سره برابر وي( هارتمن، ۲۰۰۱: ۳۱).

## د ژبو له مخې د قاموس ډولونه

قاموسونه معمولاً یو ژبي، دوه ژبي، او درې ژبي وي، خو د یو ژبي او دوه ژبي شمېر یې زیات دی او درې ژبي چې ډېره اړتیا نه وي، نه لیکل کېږي، خو معنا یې دا نه ده چې نشته. یو ژبي قاموسونه بیا په ساده او تشریحي باندې ویشل کېږي چې نن سبا تر تشریحي د ساده قاموسونو شمېر زیات دی او ډېر ځله عامو لوستونکو لپاره هم دغه ډول قاموس د ډېرې ګټنې وړ ړي. ځکه هغوی یوازې د یو ویي په معنا ځان پوهول غواړي، ریښه او نور جزیات یې یا ورته اړین نه وي او یا هم وخت ورسره نه وي، خو

د ژبپوهانو او قاموس پوهانو په اند تر ساده قاموسونو تشریحي قاموس ډېر اړین دی، ځکه ډېر وییونه داسي وي چې په بېلګو کې کارېدنګ ته اړتیا لري او د هماغي کاروني له مخې د هغه وضاحت کېدلای شي، خو که هغه نه وي نو معناي یې نمیګړې بویه، لکه په پښتو ژبه کې چې ځیني وییې درې معناوې هم لري، خو که وینګ او خجنوالی یې نه وي او یا یې بیګې نه وي، نو د معناوو توپیر به یې یو ناپښتو لپاره څه ناڅه ستونزمن وي، لکه (لور) چې یوه معنا یې د مور بچی یا دختر ده، بله معنا یې خوا یا طرف ده او دریېمه معنا یې هم پېرزوینه یا لطف او مهرباني ده نو که د داسې وییونو وینګ او استعمال موارد نه وي، په ساده توګه پر ټولو واردو پوهېدل به یې یو څه ستونزن وي نو ځکه ژبپوهان تر ساده قاموس تشریحي قاموس غوره او ښه بولي (آریاناقاموس، ۱۴۰۲، أمخ).

په دوو ژبو قاموسونو کې د مبدأ ژبې[22] د لغوي واحدونو او همدا ډول د مقصدژبې[23] د لغوي واحدونو ترمنځ ترمنځ اړیکه اړیکه رامنځته کېږي. دغه را د مبدأ ژبې د لغت لپاره په مقصد ژبه کې د معادل پیدا کولو له لارې ترسره کېږي. د لغتونو دا ډول معادلونه هغه کړنه ترسره کوي کومه چې په یو ژبو قاموسونو کې ترسره کوي. د دې لپاره چې د معادل په پیدا کولو کې ژبنی، تاریخي، جغرافیوي، ټولنیز او فرهنګي توپیرونه موجود وي، تر ټولو دقیقه او یا هم تر ټولو نږدې ژباړه یې وړاندې کېږي. په دوو ژبو قاموسونو کې نورې اطلاعاتي ځانګړنې د یو ژبو قاموسونو په څېر وي[24] ( شریفي او قطره، ۱۳۹۸: ۵۳).

د ژبو له مخې د قاموسونو ډولونه، د قاموس لیکنې یو مهم بحث دی، دا ډول وېش د قاموس د ژبنې جوړښت، موخو او کاروني له مخې کېږي. هارتمن او جیمز ( ۱۹۹۸)[25] د ژبو له مخې قاموسونه په درېیو ډولونو ویشلي دي چې په وړاندې ډول دي:

۱- یو ژبیزقاموس: یو ژبیز قاموس[26] هغه قاموس دی چې د یوې ژبې لغتونه د هماغې ژبې په وسیله تشریح او تعریفوي. دا ډول قاموسونه تر ډېره د مورنۍ ژبې د ویونکو لپاره ترتیببږي چې د لغتونو دقیقې ماناوې، ګرامري ځانګړنې او استعمالونه درک کړي.

- بېلګه *Oxford English Dictionary*.: یا پښتو-پښتو تشریحي قاموس.
- دا قاموسونه د ژبې د ادراکي درک، لغوي ودې او معناپوهنې د مطالعې لپاره ډېر ارزښت لري.

22 Source language

23 Target language

24 د یادونې وړ ده چې په یوژبیز قاموسونو کې ځیني اطلاعات په دوه ژبیزو قاموسونو کې نه وي. لکه د ریښه پېژندنې په اړه معلومات.

25 Hartmann & James, 1998

26 Monolingual Dictionary

- د هارتمان او جېمز (1998, p. 19) په وينا، يو ژبيز قاموسونه د "native speaker's linguistic competence"د پراختيا لپاره تر ټولو اغېزمن ګڼل کېږي.

۲- دوه‌ژبيزقاموس: دوه ژبيزقاموسونه[27] هغه دي چې د يوې ژبې لغتونه د بلې ژبې په مرسته تشريح شي يا هم وژباړي او په هغې ژبه کې معادل ورته پيدا کړي. دا قاموسونه د ژباړې د دويمې ژبې د زده‌کړې او د فرهنګي اړيکو لپاره ډېر ارزښت لري.

بېلګه:

- *English–Pashto Dictionary* (انګليسي – پښتو قاموس) يا *Pashto–Persian Dictionary* (پښتو – فارسي قاموس).
- دا قاموسونه د لغتونو ترمنځ د معادل‌توب (equivalence) پر بنسټ ولاړ وي.
- د هارتمان او جېمز (1998, p. 20) له مخې، دوه ژبيز قاموسونه د "interlingual mediation tools" په توګه عمل کوي، يعنې د دوو ژبو ترمنځ د اړيکې او پوهېدو وسيله وي.

۳- څو ژبيز قاموس: څو ژبيزقاموس[28] له دوو نه زياتې ژبې رانغاړي، او د يو لغت لپاره د څو ژبو معادلونه وړاندې کوي. دا ډول قاموسونه د نړيوالو بنسټونو، ژبنيو څېړنو او ډيجيټل ژباړو لپاره کارول کېږي.

- بېلګه *UNESCO Multilingual Terminological Database* يا: *EURODICAUTOM* د اروپايي اتحاديې څو ژبيز قاموس.
- دا قاموسونه د نړيوالو اصطلاحاتو، تخنيکي مفاهيمو او مسلکي ژبو د همغږۍ لپاره جوړېږي.
- د هارتمان او جېمز (1998, p. 20) په وينا، څو ژبيز قاموسونه د "multicultural and interlingual communication" د پياوړتيا لپاره ډېر اړين دي.

**په قاموسونو کې ريښه‌پېژندنه**

ريښه‌پېژندنه د قاموسونو نه بېلېدونکې برخه ده. په دا ډول قاموسونو کې د ريښه‌پېژندنې، قرضي کلمو او تاريخي قاموسونه شامل دي. همدا ډول په يو ژبو عمومي قاموسونو کې د ريښه‌پېژندنې په اړه د معلومات وړاندې د دې لامل کېږي چې د لوستونکو پوهه او اطلاعات په دې برخه کې زيات شي او د کلماتو د ريښو په اړه يې پوهه زياته شي. همدا ډول به لوستونکي د عاميانه او علمي ريښه‌پېژندنې

27 Bilingual Dictionary

28 Multilingual Dictionary

ترمنځ په توپیر هم شي او دواړه ډوله ریښه پېژندنه باندې به پوه شي او له هغې وروسته به په عامیانه ریښېپېژندنې باور ونکړي (رستم‌پور، ۱۳۹۵).

په قاموسونو کې ریښه‌پېژندنه هغې برخې ته ویل کېږي چې د لغت د اصل، تاریخي بدلون، او ژبنیو سرچینو په اړه معلومات وړاندې شي. که په ساده ډول ووایو، ریښه پېژندنه د لغت د آرې سرچینې، تاریخي بدلون، ژبنۍ ودې او همدا راز له نورو ژبو سره د اړیکو علمي څېړنې ته وایي. په قاموسونو کې د لغت د ریښې په اړه د معلومات وړاندې کول د دې لپاره دي چې لوستونکي پوه شي چې لغت په اصل کې د کومې ژبې دی، څه ډول بدلونونه په کې راغلي دي او ولې یې اوسنۍ بڼه غوره کړې ده. په قاموسونو کې د د کلماتو د ریښو په اړه د معلوماتو وړاندې کول، له لوستونکو سره مرسته کوي چې د لغت ریښه او سرچینه، تاریخ، پور اخیستل او د لغت مورفولوژیکي بدلونونه وپېژني.

ریښه‌پېژندنه[29] د ویي اصل، تاریخي بدلون او د هغه د ژبې کورنۍ د اړیکو د مطالعې علمي برخه ده. په قاموس‌لیکنه کې ریښه‌پېژندنه له هغو مهمو برخو څخه ده چې د لغوي واحدونو تاریخي هویت او ژبنۍ پرمختګ څرګندوي. له ریښه پېژندنې څخه د قاموس پوهانو موخه دا وي چې لوستونکي ته د ویي تاریخي تحول، د ژبو ترمنځ اړیکې او د معنا د بدلون په اړه معلومات ورکړي.( هارتمن او جیمز، ۱۹۹۸: ۴۹).

په یو ژبیز او دوه ژبیزو قاموسونو کې بیا ریښه پېژندنه تر ډېره د هر سرویي تر پای لاندې راوړل کېږي او د ویي تاریخي ژبه، منځنۍ بڼه او همدا رنګه د ژبې کورنۍ تراو یې روښانه کوي. په دوو ژبو قاموسونو کې د ریښې پېژندنې برخه دومره پراخه نه وي، ځکه موخه یې تر ډېره د معادل وړاندې کول وي(Atkins & Rundell, 2008, p. 186). په قاموس لیکنو کې د ریښه پېژندنې لپاره له درېیو اساسي میتودونو کار اخیستل کېږي چې په وړاندې ډول بیانېږي:

۱- تاریخي میتود[30]،د ویي د بدلون بهیر روښانه کوي، له لرغونې ډول څخه بیا تر اوسني ډول پورې.

۲- مقایسوي میتود[31]، د ژبو ترمنځ د مشترکو ریښتو ښودنه او پرتله کوي.

۳-کلتوري – تاریخي میتود[32]، د ریښه پېژندنې په دا ډول میتود کې د ویي د کارونې تاریخي او فرهنګي مخینه روښانه کوي(Hartmann & James, 1998, p. 50).

29 Etymology
30 Diachronic Method
31 Comparative Method
32 Cultural-Historical Method

## د قاموس داخلي جوړښت

د قاموس داخلي جوړښت دوه اساسي برخې لري، يوه برخه يې د ماکرو جوړښت[33] او بله برخه يې د مايکرو جوړښت[34] په نامه يادېږي، دواړه برخې د قاموس محتوا، ترتيب، او ويېو په اړه د معلوماتو دتنظيم اساس جوړوي. د هارتمن او جيمز په باور يادې دواړه برخې د قاموس د کيفيت او علمي اعتبار په برخه کې مهم رول لري، د کوم علمي روش له مخې ډېټا راټولېږي او د کاروونکو لپاره د پوهېدو اسانه لارې کومې دي. په يو ژبيز قاموس کې دا جوړښت معمولاً الفبايي وي، خو ځينې تخصصي قاموسونه (لکه د اصطلاحاتو قاموسونه) د موضوعاتو له مخې هم تنظيمېږي. ماکرو جوړښت، د رنډل (2008, p. 165)په باور، د ماکرو جوړښت موخه دا وي چې "د کاروونکي د لاسرسي لاره لنډه، منظم او منطقي کړي، څو د لغت په موندنه کې اساني وي او کم وخت ونيسي. د ماکرو جوړښت اساسي برخې دا دي:

1. د سر ويېونو ترتيب
2. د ضمايمو موجوديت
3. د حوالو سيستم
4. د اختصاراتو او نښو لست

مايکرو جوړښت د هر سر ويي لپاره دننه د معلوماتو تفصيلي بڼه ښيي، په دې مانا چې کله چې يو ويي لولو، له هغه سره نور کوم معلومات راغلي وي. د هارتمن (۲۰۰۱) په وينا مايکرو جوړښت «د قاموس د هر سرويي داخلي جوړښت دی، چې د لغت ټول اړوند معلومات (تلفظ، گرامري بڼه، معناوې، بېلگې، ريښه، مترادفات او کارونې) تنظيموي».د مايکرو جوړښت اساسي برخې په لاندې ډول دي:

1. تلفظ : تلفظ[35] د فونيټيکي نښو له مخې ښودل کېږي، لکه /kæt/ د "cat" لپاره.
2. گرامري ځانگړنې: چې سر ويي په کومه گرامري ډله کې شامل دي، لکه نوم، فعل، صفت او يا هم کومه بله گرامري ځانگړنه لري.
3. تعريف[36]: د ويي کره مانا، چې بايد واضح او روښانه وي.

33 Macrostructure

34 Microstructure

35 Pronunciation

36 Definition

4. مثالونه : بېلګې[37]، داسې بېلګې وړاندې کېږي چې د اصلي مانا ښودونه کوي.
5. ریښه‌پېژندنه: د لغت تاریخي اصل او سرچینه روښانوي او د تحول بهیر یې څرګندوي.
6. مترادف او متضاد[38]د مانیزو اړیکو ښودنه کوي، هم یې مترادف ویي روښانوي او هم یې متضاد.

د اتکنز او رنډل (2008, pp. 170–172) په وینا، د مایکرو جوړښت کیفیت هغه وخت لوړ ګڼل کېږي چې معلومات یې له مانیز دقت، ګرامري توازن او د کاروونکو د اړتیاوو له مخې ترتیب شوی وي.

**د ماکرو او مایکرو جوړښت ترمنځ اړیکه**

ماکرو جوړښت د قاموس د "بهرنی نقشې" په څېر دی، او مایکرو جوړښت د "هر لغت دننه تفصیلي نقشه" ده. دواړه یو له بله نه بېلېدونکي دي. که ماکرو جوړښت ګډوډ وي، کاروونکی لغت نه‌شي موندلی؛ او که مایکرو جوړښت ناقص وي، لغت موندل کېږي خو بشپړ پوهه نه ورکوي.

د قاموس پوهانو په اند، دواړه جوړښتونه د قاموس د پوهېدنې او علمي اعتبار ګډ بنسټ جوړوي، څکه د کاروونکي د تجربې کیفیت تر ډېره د دوی په همغږې پورې تړلی دی.

**په قاموس لیکنه کې تلفظ**

په قاموس‌لیکنه کې د تلفظ برخه د ویي فونیولوژیکي ځانګړنې په نښه کوي او موخه یې دا وي چې لوستونکی د ویي د اداینې له سمې بڼې سره بلد شي.د قاموس پوهانو په وینا، د قاموس‌لیکونکي دنده دا ده چې د لغت د تلفظ لپاره یو معیاري نښه‌ییز جوړښت غوره کړي چې د غږونو توپیر، اوږدوالی او خج په دقیقه توګه څرګند شي. په انګلیسي قاموسونو کې دا برخه اکثر د نړیوالې فونیټیکي الفبا له مخې لیکل کېږي، څکه دا سیستم نړیوال فونیولوژیک معیار ګڼل کېږي.(Landau, 2001, p. 86)

د هارتمن او جمیز (۲۰۰۲) د تعریف له مخې د تلفظ برخه باید د دوو اصولو تابع وي:

۱- فونیټیک سمون.

۲- د کاروونکي د پوهېدنې اسانتیا .

دا اصول د دې ښودنه کوي چې باید په ټولو لغتونو کې په یو ډول وکارول شي، او د نښو پېژندنه باید د قاموس د کاروونکو له سویې سره برابره وي. له همدې امله، ډېری عمومي قاموسونه د ساده فونیټیکي

37 Examples

38 Synonyms and Antonyms

نښو کارول غوره ګڼي، خو علمي قاموسونه د IPA بشپړ سیستم کاروي (Hartmann & James, 2002, p. 112).

د قاموس‌پوهانو په باور، د تلفظ برخه یوازې د فونولوژۍ برخې پورې نه اړوندېږي بلکې د قاموس د عملي کارونې مهمه برخه هم ګڼل کېږي. دوی ټینګار کوي چې د تلفظ نښه باید د لغت د سیمه‌ییز او نړیوالې بڼې توپیر هم وښيي، لکه د بریتانوي او امریکایي انګلیسي بېلګې. دغه ډول دوه‌ګونی نښه‌لیک د کاروونکي د جغرافیایي او ادبي اړتیاوو ترمنځ توازن ساتي.(Atkins & Rundell, 2008, p. 352)

د جکسن (۲۰۱٦) په وینا، د تلفظ د برخې علمي ارزښت هغه مهال لوړېږي چې د غږیز تحلیل له ژبپوهنیزو معیارونو سره سم ترسره شي. یعنې د فونیمونو (phonemes) او الوفونونو (allophones) ترمنځ توپیر باید څرګند شي، او د خج (stress) ځای باید د فونیولوژیکې قاعدې له مخې وټاکل شي، نه د ظاهري بڼې له مخې. دا کار د قاموس د فونیولوژیکي دقت او اعتبار ښکارندویي (Jackson, 2016, p. 189).

د تلفظ برخه په قاموس‌لیکنه کې هغه علمي ځانګړنه ده چې د لغت د غږیز هویت استازیتوب کوي، د معاصرې قاموس‌لیکنې له مخې، د تلفظ د ښودلو اصول په درې بنسټونو ولاړ دي:

۱- د نړیوالې فونیتیکې الفبا معیاري کارونه (IPA).

۲- د نښو د یوشان کارونې اصل.

۳- د کاروونکي د پوهېدنې اسانتیا. دا درې اصول د قاموس جوړونې د علمي یکنواختۍ، وضاحت، او د ژبني واقعیت د سموالي ضمانت کوي (Svensén, 2009, p. 245).

## په قاموس‌لیکنه کې د مانیزې برخې اصول

د قاموس‌لیکنې هره برخه ځانګړي اصول لري چې د مانا برخه هم په قاموس‌لیکنه کې ځانګړي اصول لري او هغو اصول ته پام د قاموس‌لیکنې دغه برخه پیاوړې کوي او د لوستونکو باور په قاموس او د هغه په ترتیبوونکي او لیکوال زیاتېږي. په قاموس‌لیکنه کې د مانا برخې اصول په وړاندې ډول دي:

### ۱- وضاحت او دقت

د قاموس‌لیکنې یو بنسټیز اصل دا دی چې مانا باید روښانه، کره او له ابهام څخه پاکه وي. تعریف باید داسې وي چې لوستونکی د لغت مانا پرته له کوم ابهام څخه درک کړي. د اصطلاحاتو کارونه باید د امکان تر حده لږ وي، او له دایروي تعریف39 څخه باید ډډه وشي، دا په دې مانا ده چې یو

39 Circular Definition

ویی باید په خپل تعریف کې بیا تکرار نه شي. د فارسي ژبې د معین قاموس لیکوال ټینګار کوي چې د لغت تعریف باید دقیق، غیرمبهم او د په اسانۍ د پوهېدو وړ وي (معین، ۱ ج، ۱۳۸۳: ۲۵).

**۲- د مانا بشپړتیا**

د مانا بشپړتیا[40] په دې مانا ده چې یو تعریف باید د لغت د معنا ټولو اړخونه ولري، اصلي، فرعي، مجازي او تخصصي معناوې باید څرګندې شي. د *دهخدا* او معین قاموسونه دا اصل مراعاتوي، ځکه یو لغت د بېلابېلو علمي، ادبي او عامیانه کارونو له مخې تشریح کوي. دا کار لوستونکي ته د لغت د معنا د پراخوالي او حدودو درک ورکوي ( دهخدا، ۲ ج، ۱۳۷۷، ۸۶۵).

**۳- د ساده ژبې کارونه او د پیچلتیا مخنیوی**

د ساده ژبې کارونه او د پیچلتیا مخنوي[41] په دې مانا دی چې د ویی په تعریف او مانا کې باید له ستونزمنو او پېچلو وییونو ډډه وشي، پرته له دې چې لغت په خپله یو تخنیکي یا تخصصي مفهوم ولري. که لغت تخصصي وي، باید په داسې بڼه تشریح شي چې د ځانګړي مخاطب له پاره د پوهېدنې وړ وي. دا اصل د قاموس د عامې کارونې کچه کچه لوړه ساتي(معین، ۲ج، ۱۳۸۳: ۳۴۵).

**۴- د کارونې بافت**

په قاموس‌لیکنه کې د مانانو د برخې له اصولو څخه یو هم د کارونې بافت[42] دې او دا اصل په دې مانا دی چې هر لغت د استعمال ځانګړی چاپېریال لري، نو قاموس باید د معنا تر څنګ د کارونې ساحه هم بیان کړي؛ لکه دا چې لغت ادبي، عامیانه، دیني یا علمي کارونې لري. د مثال په توګه، *دهخدا* قاموس د هر لغت تر څنګ د شاعرانو بیتونه، متلونه یا علمي عبارتونه راوړي تر څو د مانا دکارونې واقعي بڼه څرګنده شي( دهخدا، ۳ج، ۱۳۷۷: ۲۴۱).

**۵- ریښه‌پېژندنه او تاریخي تړاو**

ریښه پېژندنه او تاریخي تړاو[43] په دې مانا دی چې په وییونو کې د زمان په تېرېدو سره د مانا بدلون ته پام وشي، د لغت ریښه او تاریخي تحول یادول ډېر ګټور دي. دا کار د لغت د مانا د تحول ذهني انځور وړاندې کوي او د ژبې د تکاملي بهیر استازیتوب کوي. د *فرهنګ ریشه‌شناختی زبان فارسی* او

40 Comprehensiveness of Meaning

41 Simplicity and Accessibility

42 Context of Use

43 Etymological and Historical Connection

نورو لرغونو قاموسونو په وینا، د لغت د اصل بیان د مانا د لا ښه درک سبب کېږي (فرهنگستان زبان و ادب فارسي، ۱۳۹۵: ۲۵).

**٦- د معناوو تفکیک**

که یو لغت څو معناوې ولري، هره مانا باید په جلا توگه بیان شي. د معناوو ترمنځ د کارونې د کچې تفکیك اړین دی چې لوستونکی وپوهېږي چې کومه مانا عامه او کومه تخصصي ده.

**٧- د مثالونو کارونه**

د هرې مانا تر څنگ د حقیقي کارونې بېلگې راوړل د معنا د روښانتیا تر ټولو اغېزمنه لار ده. د د بېلگو په مرسته لوستونکی ویني چې لغت په طبعي متونو کې څنگه راځي. د *دهخدا* قاموس ډېر مثالونه له ادبي متونو او ولسي متلونو څخه را اخیستي دي.

د قاموس‌لیکنې د مانا برخه د یو قاموس علمي او ادبي ارزښت ټاکي. که دا برخه له وضاحت، بشپړتیا، د کارونې له بیان، او له دقیقو مثالونو سره مل وي، نو قاموس نه یوازې د لغوي مالوماتو په زېرمه بدلېږي، بلکې د ژبې د فرهنگي حافظې استازیتوب هم کوي. د مانا د بیان دغه اصول د قاموس د اعتبار، د کاروونکي د پوهېدنې سویه او د ژبپوهنې د علمي پرمختگ د پیاوړتیا بنسټ جوړوي.

**پایله**

د دې څېړنې موندنې څرگندوي چې قاموس‌لیکنه د ژبپوهنې یوه خپلواکه، خو له نورو علمي څانگو سره ژوره تړلې څېړنیزه برخه ده، چې موخه یې د وییونو د راټولولو، تشریح کولو، ډلبندۍ او معیاري وړاندې کولو لپاره یو منظم علمي چوکاټ رامنځته کول دي. د کتابتوني میتود پر بنسټ د بېلابېلو علمي آثارو تحلیلي مطالعې وښوده چې قاموس‌لیکنه یوازې د لغتونو ساده راټولول نه دي، بلکې څوبعدي علمي بهیر دی چې د تیورۍ، میتود او عملي پلي کولو ترمنځ توازن ته اړتیا لري.

په دې څېړنه کې څرگنده شوه چې د قاموس‌لیکنې بنسټونه د څو مهمو اصولو پر محور ولاړ دي، لکه د موخې او کاروونکي اصل، د لغوي موادو د ټاکنې، تشریح، ترتیب، سرچینې او دقیقوالي اصول، چې د هارتمن (2001) له نظره د قاموس‌جوړونې د علمي اعتبار بنسټ جوړوي. دغه اصول د قاموس‌لیکنې د تیوریکي او عملي پړاوونو ترمنځ د اړیکې د رامنځته کولو اساسي وسیله ده.

د څېړنې بله مهمه موندنه دا ده چې قاموسونه له جوړښتي پلوه دوه برخې لري: ماکرو جوړښت چې د لغتونو عمومي ترتیب او تنظیم بیانوي، او مایکرو جوړښت چې د هر لغوي توکي د دننه تشریح تفصیلي

بڼه ښيي. دا دواړه جوړښتونه د قاموس جوړونې د سموالي، وضاحت او کاروونکي د اسانتیا لپاره بنسټيي رول لري.

په څېړنه کې د ريښه‌پېژندنې ارزښت هم د قاموس‌ليکنې په علمي بهير کې څرګند شوی دی. ريښه‌پېژندنه د لغت د تاريخي تحول، ژبني اصل او د معنا په تشريح کې مهم رول لري او د لغوي هويت د درک لپاره د قاموس‌ليکنې یو بنسټيي علمي اړخ ګڼل کېږي. پايلې دا هم څرګندوي چې د معاصر قاموس‌ليکنې پرمختګ د ژبپوهنې د تيوريکي ليدلورو، د کمپيوټري ټکنالوژۍ د کارونې او د کارووںکو اړتياوو د دقيق تحليل همغږۍ پورې تړلی دی. د قاموس‌ليکنې بنسټونه هغه علمي اساسات دي چې د قاموس جوړونې د اعتبار، د ژبې د معياريتوب او د ژبني ميراث د ساتنې ضمانت کوي. د علمي قاموس جوړونې لپاره بايد د ژبپوهنې اصول، د کتابتوني څېړنې ميتودونه، او د ټکنالوژۍ وسايل په یو همغږي چوکاټ کې وکارول شي، څو داسې قاموسونه رامنځته شي چې هم علمي اعتبار ولري او هم د کارووںکو اړتياوې په اغېزمن ډول پوره کړي.

**اخځليکونه**

خرارتس، ديرک. (۱۳۸۹). ژ:قطره، فريبا. اصول فرهنګ نويسي يک زبانه

دهخدا، علی‌اکبر. (۱۳۷۷). *لغت‌نامه دهخدا*. تهران: دانشګاه تهران.

شريفی، ساغر او قطره، فريبا. (۱۳۹۸). درآمدی بر فرهنګ نويسي. تهران: کتاب بهار.

فرهنګستان زبان و ادب فارسی.(۱۳۹۵). *فرهنګ ريشه‌شناختی زبان فارسی*. تهران: انتشارات فرهنګستان.

معين، محمد. (۱۳۸۳). *فرهنګ فارسی معين*. تهران: انتشارات اميرکبير.

Atkins, B. T. S., & Rundell, M. (2008). *The Oxford Guide to Practical Lexicography*. Oxford: Oxford University Press. pp. 184–186.

Hartmann, R. R. K. (2001). *Teaching and Researching Lexicography*. London: Longman. pp. 31–33.

Hartmann, R. R. K. (2001). *Teaching and Researching Lexicography*. London: Longman. p. 33.

Hartmann, R. R. K., & James, G. (1998). *Dictionary of Lexicography*. London: Routledge. pp. 18–20.

Hartmann, R. R. K., & James, G. (1998). *Dictionary of Lexicography*. London: Routledge. pp. 49–51.

Rundell, M. (2016). Lexicography and Its Theoretical Foundations. *In The Routledge Handbook of Lexicography* (pp. 209–215). London: Routledge.

Atkins, B. T. S., & Rundell, M. (2008). *The Oxford guide to practical lexicography*. Oxford University Press.

Hartmann, R. R. K., & James, G. (2002). *Dictionary of lexicography*. Routledge.

Jackson, H. (2016). Words and their meaning. Routledge.

Landau, S. I. (2001). Dictionaries: *The art and craft of lexicography* (2nd ed.). Cambridge University Press.

Svensén, B. (2009). A handbook of lexicography: *The theory and practice of dictionary-making*. Cambridge University Press.

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Helmand University

# Leed Social Science Academic Journal

Volume:2 Issue: 2 Year:1404